# الم نشرح

**مکی سورة دی ۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ﴿١﴾

**آیا مونږ ستا سینه( د نبوت او حکمت په نور) پراخه نه کړه؟( او هغه ټولې ذهنی او فکری پریشانئ چې مو د اسلامی دعوت د پیل په لومړیو مرحلو کې د موجودو ستونزو له امله تاته پیدا شوې وې، په کامل اطمینان بدلې نه کړې)؟**

وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ﴿٢﴾

**او( د غم او پریشانئ) هغه دروند بار مو ستا له اوږو ښکته کړ( چې تا د خپل قوم د جهالت او کفری اعمالو او عقایدو، مشرکانه اوهامو، پراخ اخلاقی فساد، بې حیایئ، د بتانو د پرستش، ټولنیزې بې عدالتئ او خونړیو قبیلوی جګړو په لیدلو احساساوه).**

ٱلَّذِيٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ ﴿٣﴾

**هغه بار چې ستا ملا یې درنه او کږه کړې وه.( نو الله تعالی درته د نبوت د ستر مقام په سپارلو، لارښوونه وکړه چې د دغو ټولو ستونزو د حل کلی یوازې او یوازې د اسلامی نظام کامل تطبیق دی).**

وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ﴿٤﴾

**او مونږ ستا ذکر( او شهرت په داسې ډول خپور او) اوچت کړ( چې په آسمان او ځمکه کې( هر ځای چې د الله تعالی نوم یادیږی) ستا نوم هم ورسره په عزت او درناوی یادیږی او د نړۍ له ګوټ ګوټ نه هره ثانیه د لااله الا الله محمد رسول الله د باعظمته کلمې غږ راپورته دی).**

فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٥

**نو بې له شکه چې له هرې سختۍ او کړاو سره آسانی او سوکالی ملګرې ده.**

إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٦

**هو- له هرې سختې او کړاو سره آسانی او سوکالی هم شته.**

فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ٧

**نو کله چې( د دنیوی چارو او دعوت او تبلیغ له مهمو چارو وزګاریدې، عبادت او دعا ته مخه کوه.**

وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ٨

**او په پوره اخلاص د خپل رب حضور ته مخ اړوه.**

**« تمت سورة الانشراح بفضل الله و رحمته»**

**=====================**